# خبردار اوسئ! شراب حرام شول

له انس رضی الله عنه څخه روایت دی وایي: زه د ابو طلحه په کور کې ساقي وم، په هغه ورځ د خلکو شراب "فضيخ" و -له خرما جوړ شوي شراب- نو رسول الله ﷺ اعلانوونکي ته امر وکړ چې خلکو ته اعلان وکړي چې : خبردار اوسئ! شراب حرام شول، انس وايي: ابوطلحه راته وويل: وځه، دا شراب توی کړه، نو زه ووتلم او شراب مې توی کړل، تر دې چې د مدينې په کوڅو کې وبهېدل، ځينو خلکو وويل: " ځينې خلک چې مړه شوي او شراب يې په نسونو کې و (يعنې د هغوی به څه کېږي) نو الله تعالى دا آيت نازل کړ: {لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا}(المائدة: 93 آيت) يعني: پر هغو کسانو چې ايمان يې راوړی او نيک کارونه يې کړي په پخواني خوراک او څښاک کومه ګناه نشته...)

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

انس بن مالک رضي الله عنه خبر ورکو چې دی د هغو کسانو د سقاېې (اوبه ورکولو) په کار کې بوخت و، چې د ده د مور د خاوند ابوطلحه رضي الله عنه په کور کې وو، او هغه مهال د دوی شراب «فضيخ» وو، چې د پخو او نيمه پخو خرماوو ګډ شراب دي، ناڅاپه د رسول الله صلى الله عليه وسلم اعلانوونکي اعلان وکړ چې: «خبردار! شراب حرام شول» وايي ابو طلحه راته وويل: «وځه، دا شراب توی کړه او چپه يې کړه» نو زه ووتلم، شراب مې توی کړل او چپه مې کړل، نو شراب د مدينې په کوڅو کې روان شول، ځينو خلکو وويل: «ځينې صحابه د شرابو له تحريم نه مخکې وژل شوي او حال دا چې شراب يې په ګېډو کې و» (يعنې د هغوی حکم به څه وي؟) نو الله تعالى دا آيت نازل کړ: {پر هغو کسانو چې ايمان يې راوړی او نيک کارونه يې کړي په هغه څه کومه ګناه نشته چې پخوا يې خوړلي او يا څښلي دي}. [المائدة: 93 آيت]. يعنې: پر هغو کسانو چې ايمان يې راوړی او نېک عملونه يې کړي، ګناه نشته په هغه څه کې چې دوی( له حرمت نه مخکې) خوړلي او يا څښلي دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66034